

# د باچاخان د نړیوال سیمینار د مقاله ټولګه

CamScanner

# د باچا خان په مبارزه کې د نننۍ افغانستان لپاره درسونه

مشتاق رحیم

## ۱. د پیل خبرې

د باچا خان د انجمن اصلاح افاغنه د خوځښت سلمه کلیزه داسې مهال پوره کیږي چې په لر او بر کې افغاني ټولنه سیاسي، ټولنیزو او اقتصادي ننګونو سره مخامخ ده. له لسیزو لر او بر افغان ټپل شوي افراطیت او توندلاریتوب سره یو داسې مهال لاس او ګریوان دی چې بیلا بیلو فکري ډلو ترمنځ واټن پراخه شوی او چارو سره دودیز برخورد افغاني ټولنه د نړیوالو بدلونونو په چوکاټ کې د بحث له متن څخه حاشیې ته ټیل وهلې. په همدې دلیل، اړینه ده چې د انجمن اصلاح افاغنه د سلمې کلیزې د نمانځنې په اډانه کې د باچا خان له افکارو څخه په ګټه اخیستنې د لر او بر افغان ستونزو ته کتنه وشي او د ستونزو سره د مبارزې لپاره د حل لارو د لټولو په موخه یو بحث ایجاد شي. ډیره اړینه ده چې افغان ټولنه د دغه ستر شخصیت د ژوند او مبارزې څخه د زدکړو له لارې ټولنیزې، اقتصادي او سیاسي اصلاح ته مخه کړي ترڅو په عصري نړۍ کې د یو سیال ملت په توګه د ژوند کولو جوګه شي. دا مقاله د باچا خان ژوند، مبارزې او ټولنې لپاره د لارښوونو په رڼا کې د افغان ټولنې اوسنۍ پېچر بنسټیزې ستونزې په ګوته کوي او د ستر خان څخه د زدکړې له لارې په ټولنه کې د اساسي بدلون لپاره وړاندیزونه کوي.

## ۲. انجمن اصلاح افاغنه ته لنډه کتنه

انجمن اصلاح افاغنه د باچا خان لخوا د کوزې پښتنخوا په ټولنه کې د ټولنیز، سیاسي او اقتصادي بدلون لپاره لومړی ګام وو. دا ټولنه په ۱۹۲۱ کال کې باچا خان په خپله سیمه کې داسې مهال جوړه کړه چې په متحد هندوستان کې بیلا بیلو قومونو او سیمو د خپل حقونو اخیستو، د انګریز تر ولکې لاندې هندوستان کې د سیاسي فعالیت او د هند د لویې وچې په چارو کې د خپل دریځ څرګندولو لپاره خورا پیاوړې ادرسونه درلودل. یوه خوا د هند ملي کانګریس و چې د موهن داس کرم چند ګاندهي تر مشرۍ لاندې یو نسبي ټول شموله سیاسي ډله او ښکلاګر انګریزي حکومت په مقابل کې د هند د ولسونو استازي ګوند مسولیت یې مخ ته وړلو. بله خوا بیا مسلم لیګ وو چې د هند د مسلمانانو د استازي ګوند په توګه را څرګند شوی وو او د کانګریس د سیال په توګه یې سیاسي فعالیت کولو. خو له بده مرغه د دواړو ډلو په شتون کې تر انګریزي ښکیلاک لاندې پښتنه سیمه له سیاسي اړخه بې کسه او بې پوښتنې وه.

د سیاسي استازیتوب د نه شتون تر څنګ، پښتانه له ټولنیز، سیاسي او اقتصادي اړخه هم خورا وروسته پاتې وو. په ټولنه کې زدکړو هیڅ اهمیت نه درلود، تربګنۍ په اوج کې وې او کسبګر ته په سپکه سترګه کتل کېدل. دا هغه مهال و چې نړۍ په چټکۍ سره صنعتي کیدو خواته روانه وه، خو پښتنه ټولنه دودیزې کروندګرۍ کې ښکېل وه. د یادو ټولو ستونزو ګډوله د دې لامل شوې وه چې لر افغان د ژوند په ټولو چارو کې وروسته پاتې وي او د دوی د تقدیر په اړه پریکړې بل څوک وکړي. افغان ټولنه سیاست سره نا بلده وه او د مبارزې یوازینۍ تګلاره یې تاوتریخوالی او ټوپک په لاس مبارزه وه. فلپ ټالبوټ په دې اند دی چې باچا خان یو داسې ولس چې په غرنیو سیمو کې اوسېدل، له فزیکي اړخه پیاوړي وو او په نړۍ کې د پیاوړې جګړه مار پیژندل کېدل د نه تاوتریخوالي په لښکر بدل کړل.

په داسې یو وخت کې د اتمانزیو د سیمې خان، عبدالغفار خان، د خپل ولس د ژغورنې په موخه را پورته شو او د افغانانو د اصلاح لپاره یې ټولنه جوړه کړه. غفار خان په ولسي انسجام په ولس کې د لیک، لوست او زدکړو د شعور د را ویښولو تکل وکړو او د ناوړه دودونو له منځه وړلو لپاره یې کار پیل کړ. په یوه وروسته پاتې ټولنه کې تل داسې فکر کېدو چې ګوندې دا چارې چې عبدالغفار خان کوي، دا حکومتونه او پاچیان کوي او په همدې دلیل ولس عبدالغفار خان ته د باچا لقب ورکړ.

انجمن اصلاح افاغنه په لره افغان ټولنه کې د تنظیمي جوړښت خاوند لومړی خوځښت و. د

همدې خوځښت برکت وو چې په سیمه کې لومړی پښتو چاپي خپرونه د پښتون مجلې په شکل کې ټولنې ته د لوست لپاره وړاندې شوه. د وخت په تیریدو سره د انجمن اصلاح افاغنه د فعالیتونو له برکته سیمه ییز انسجام او د بدلون خوځښت پراخه او په ۱۹۲۸ کال کې په خدايي خدمتګار بدل شو چې تر ننه د لر افغان د سیاسي استازې دلې په توګه د عوامي نیشنل ګوند په اړانه کې د لوی افغانستان د حقونو د دفاع دنده مخته وړي.

د انجمن اصلاح افاغنه د هلو ځلو برکت دی چې نن د لوی افغانستان په وجود کې لر افغان په تعلیمي ډګر کې د نورو سیمو په پرتله فوق العاده پر مختللی دی. صنعتي پر مختګ یې هم ښه بېساری دی او له سیاسي اړخه د همدې انجمن د خدمتونو پایله ده چې د ملي عوامي ګوند تر څنګ پښتانه ځوانان د پښتون ژغورنې غورځنګ تر چتر لاندې د لر او بر افغان د حقونو دفاع او د وړانکارو عناصرو په مقابل کې سینه سپر ولاړ دي.

## ۳. لر او بر - ستونزې او ننګونې

لر او بر افغان د شلمې پیړۍ له وروستۍ نیمې تر دې دمه د بحرانونو په داسې یو بهیر سره مخامخ دی چې افغان ټولنه یې په دوامداره توګه په شا تمبولې او ستونزې یې ورځ تر بلې پېچلتیا سره مخامخ دي. د دغه بحرانونو د لړۍ اوږدیدو او د ستونزو پیچلي کېدو کې بې له شکه چې بې شمېره بهرني عناصر دي چې د خپلو موخو په تکل کې یې وړانکارۍ ته لاس اچولی. خو دا باید هیر نه کړو چې دا د افغان وطن د وګړو کور دننه ستونزې او ناکارۍ دي چې هېواد یې د بحرانونو ګرداب ته ټېل وهلو او ورسره یې باندنیو ته د افغانستان په چارو کې د مداخلې زمینه برابره کړې ده. دا به اسانه نه وي چې په دې لنډه مقاله کې ټولو ستونزو ته کتنه وشي، خو یو شمېر هغه سترې خبرې چې ښايي د ډیرو لویو او وړو ستونزو بنسټ ثابت شوي یادونه اړینه ده.

### الف: ټولنیزې ستونزې

افغاني ټولنه تر ډېره بریده دودیزه پاتې شوې او ډېره کمه هڅه یې کړې چې د عصري نړۍ د چټکو ټولنیزو، سیاسي او اقتصادي بدلونونو سره ځان عیار کړي. افغان ټولنه خپلو پخوانیو ټولنیزو او مذهبي دودونو او دستورونو ته د دوکما پالنې تر حده ژمنه ده او هیڅ حاضره نه ده چې دې برخه کې د اصلاح، کره کتنې او بدلون ته چمتو والی وښيي. دا چاره د دې لامل شوې چې د افغان ټولنې د بدلون، پر مختګ او عصریتوب مخه ډب شوې او ټولنه د پر مختګ له مزل څخه وروسته پاتې ده.

د ټولنیزو کړو وړو په برخه کې تر ټولو لومړی د زدکړو او تعلیم یادونه اړینه ده. په یو داسې عصر کې چې علوم د پراختیا په حال کې دي، او نړۍ د تخصص په لور روانه ده، افغاني ټولنې تر ډېره بریده زدکړو ته لومړیتوب نه دی ورکړی. هغه چې زدکړې هم کوي په سنتي او دودیزو زدکړو باندې بوخت دي. آن د دیني زدکړو په برخه کې هم یو پخوانی تعلیمي نظام دود دی چې د دې ورټیا نه لري چې د عصري نړۍ اړتیاو سره سم دیني علمي کادرونه ټولنې ته وړاندې کړي. بله خوا بیا ښځې، د ټولنې کابو نیم برابر وګړي، په یو داسې عصر کې چې نړۍ د علمي پرمختګونو انقلابونه تجربه کوي، تر ډېره له زدکړو محرومه دي.

د ټولنیزو جوړښتونو په برخه کې که وکتل شي نو د فکري ډلو په ځای قومي او د ټبر جوړښت ته لومړیتوب ورکول کېږي. ټولنه مو په وړو توکمیزو قومي او سمتي حلقو کې بندیوانه ده. دغه وړو جوړښتونو باندې تمرکز له کبله ملي مسایلو سره هم د توکمیز، قومي او سمتي جوړښت په رڼا کې برخورد کېږي چې له کبله یې هغه اړین اصلاحات او بدلونونه چې د ټولنې د پرمختګ لامل شي نه ترسره کیږي. بله خوا د دې ټولنیز ویش له کبله د افغانستان ټیکاو له کابو نیمې پیړۍ ننګونو سره مخامخ دی.

تندلاریتوب او تشدد هغه بلا ګرځېدلې چې په افغاني ټولنه کې یې د استدلال، مباحثې او خبرو اترو ته بیخي ځای نه دی پرې ایښی. افغاني ټولنه تربګنیو او قومي شخړو کې د ښکیلتیا له کبله خپله ټوله انرژي د مقابل لوري په حق کې د ورانکارۍ له لارې د برلاسۍ کټلو باندې مصرفوي. نه زغم، پلوراليزم سره مخالفت، د مقابل لوریو د حذف تکل د افغاني ټولنې تنوع ته ستر زیان رسولی، د مسایلو په اړه د متفاوته او نویو زاویو څخه کتلو مخه یې ډب کړې او افغاني ټولنه یې یو ډول انجماد سره مخامخ کړې. تاوتریخوالی، تشدد او تندلاریتوب په یوې داسې ستونزې بدله شوی چې افغاني ټولنه کې د بدلون په تکل هر بحث یې مردود ګرځولی.

### ب: سیاسي ستونزې

افغاني ټولنه د سیاست په برخه کې د ډېرو تشو سره مخ ده چې له همدې کبله هېواد سیاسي ناټیکاو سره مخامخ دی. په لومړي سر کې، افغانان د سیاست په برخه کې د ایتان هرش په خبره تر ډېره بریده شوقیه سیاست کې ښکیل دي خو په عملي برخه کې مبارزې لپاره هیڅ چمتووالی نه لري. که له یوې خوا ساعتونه ساعتونه سیاسي بحثونو کې ښکېل پاتې کیږو، او د هیواد، سیمې او نړۍ په سیاست سیاسي بحثونه کوو، مطبوعاتي او غیر مطبوعاتي بحثونه اورو نو بله خوا بیا د عملي سیاسې ډګر کې ډېر کم فعالیت ته هم چمتو نه یو. همدا لامل دی چې هیواد د سیاسي جوړښتونو،

ریښتونو سیاسي مشرانو او په برنامه متکي سیاسي فعالیت څخه محروم دی.

د سیاست په برخه کې مو بله ستونزه، چې ریښه یې په توکم، قوم او د سمت پالنې ټولنیزې ستونزې کې ده، د فکر او برنامې د سیاست په ځای قومي او سمتي سیاست دی. د هېواد کابو ټولې توکمیزې او مذهبي ډلې د ستر ملي فکر او لرلید په ځای د توکم، قوم او سیمې تر چتر لاندې راټول دي. همدا لامل دی چې د ملي ګټو ځای کوچنیو سیکتارستي مادي لومړیتوبونو نیولی. دې چارې نه یوازې دا چې هیواد ستري سیاسي تشې سره مخامخ کړی، ټولنه یې هم وېشلې ده چې له کبله یې مخربې کړۍ، کور دننه او دباندې، د خپلو ستراتیژیکو او شخصي ګټو لپاره په افغانستان کې د مداخلې شونتیاوې په واک کې لري.

همدا راز، هغه خلک چې سیاسي فعالیتونو کې بوخت دي، سیاست ته یوازې د واک او څوکۍ ته د رسیدو د وسیلې په سترګه ګوري. په دې تکل کې ایډیالوژي، سیاسي مفکوره او د ملت لومړیتوبونه له نظره غورځول کیږي او واک ته د رسېدو لنډو لارو چارو باندې فکر کېږي. په دې هڅه کې یو شمېر ځوانان او سیاسي فعالان د دمګړۍ د سیاسي ګټې د ترلاسه کولو لپاره حادثو زیږولي او مغرضه اشخاصو، چې په افغاني ټولنه کې یې د سیاسي نخبه ګانو ځای نیولی، سیوري ته پنا وړي. په بل عبارت، سیاست د ولسي او هېوداني ښېګڼې په ځای د شخصي ګټو په چارې بدل شوی. د دې چارې یو بل تاوان دا دی چې هېواد کې مو طبعي سیاسي حرکتونه او احزاب چې ولس کې د ریښو زغلولو توان ولري منځ ته نه راځي او د هیواد سیاسي فضا باندې د جګړې د کلونو ډلګۍ واکمنې پاتې کیږي.

په ټوله کې حزبي سیاست سره د خلکو حساسیت په افغانستان کې د سیاسي جوړښتونو د جوړیدو او پیاوړي کېدو په مخ کې ستر خنډ ثابت شوی دی. د پنځوسمې او شپیتمې لسیزې سیاسي ډلو فعالیتونه چې په افغانستان کې د انتشار او ګډوډۍ لامل شول، په خلکو کې د سیاسي ګوندونو په اړه ویره پیدا کړې ده چې له امله یې ولسونه چمتو نه دي چې ګوندی سیاست وکړي. دا په داسې حال کې ده چې هیڅ ډیموکراټیک نظام پرته له حزبي سیاست د پایدارۍ او ټیکاو لور ته نه شي تلی. بله خوا د جګړې د کلونو سیاسي ډلو او ځوانو سیاسي فعالانو معامله ګرۍ په ولس کې د سیاسي احزابو په اړه بد بیني لا پسې ډیره کړې ده.

د ولسونو سره د سیاسي کار او انسجام نه شتون افغان ولس د سیاست او سیاسي بهیرونو؛ لکه ټاکنو، په چارواکو د څار او په ملي چارو کې د فعاله ګډون نه شتون لامل ګرځېدلی. د دې له کبله، تر ډیره بریده، په افغانستان کې سیاست یوازې حادثو زیږولي رهبرانو چاره ګرځېدلې او د

هېواد او ولس په اړه ټولې پریکړې د یوې ځانګړې حلقې په انحصار کې یی. په بل عبارت، د ولس د سیاسي شعور او ملي مسایلو په اړه بې تفاوتي د دې لامل شوې چې پریکړې د هېواد او ولس د خیر په ځای د افرادو د ګټو د خوندیتابه په رڼا کې کېږي.

په عامه کچه د سیاسي شعور اوسیاسي تحلیل د وړتیا کمی بله ستره ستونزه ده چې لر او بر افغان یې سترو ننګونو او بې ثباتۍ سره مخامخ کړی دی. که د اویایمې زیږدیزې لسیزې ته ګورو او که د یوویشتمې پېړۍ نړیوالو سیاسي حقایقو ته، هر مهال افغانان د باندنیو سیاسي ایډیالوژیانو قرباني شوي او افغان وطن پکې تاوان کړی. دا په داسې حال کې ده چې د سیمې او نړۍ هیوادونو د نړیوالو ایډیالوژیانو په اډانه کې خپلې ملي ګټې پاللي او کور ته یې ګټه راوړې، افغانانو بیا هیواد او د هېواد ګټې د وارد شویو ایډیالوژیانو قرباني کړي دي. د افرادو له خوا را وارد شویو آیډیالوژیانو په اړه د افغاني ټولنې د پڅو سترګو اقتدا افغانستان په تېرې نیمې پېړۍ کې له یوې بربادۍ او بحران څخه بل ته لیږدولی دی.

سیاسي موخو ته د رسېدو لپاره تشدد او تاوتریخوالی کارول یوه داسې ستونزه ده چې څه دپاسه څلورو لسیزو را په دېخوا په لر او بر کې د افغاني ټولنې بنسټونه یې نړولي او په افغاني ټولنه کې یې عصري سیاست د ودې د قاتل او وژونکي رول لوبولی دی. دې کې شک نشته چې په اتیایمه زیږدیزه لسیزه کې باندنیو مغرضه اړخونو د خپلو سیمه ییزو او نړیوالو سیاسي موخو د لاسته راوړلو لپاره په افغاني ټولنه کې توندلاریتوب مروج کړ، خو د افغاني ټولنې په خپل مزاج کې د تشدد شتون دغه چارې لپاره بستر ثابت شو. همدا لامل دی چې دا څلور لسیزې هرې ښکېلې ډلې د سیاسي چتر او سیاسي فعالیت تر عنوان لاندې د تشدد او افراطي برخورد په مرسته د واک ګټلو او واک ساتلو هڅه کړې ده. له بده مرغه دې تکل نه یوازې دا چې بر افغانستان ویجاړۍ سره مخامخ کړ، لر ته یې هم ژور تاونونه ورسول. همدا راز د تشدد تګلاره د دې لامل شوه چې په افغانستان کې د بېلا بېلو اقشارو ترمنځ واټن پراخه کړي، د هېواد نظام رنګ شي او افغانستان د خپل تاریخ بد ترینه بدمرغي تجربه کړي.

## ج: اقتصادي ستونزې

اقتصاد د یوې ټولنې اساس جوړوي او ټولنه د دې جوګه کوي چې د ژوند نورو اساسي برخو ته ورسېږي. د ابراهم ماسلو د اړتیا تیوري په رڼا کې اقتصادي خوندیتوب او له فقر څخه خلاصون انسانانو ته اجازه ورکوي چې د انساني ژوند نورو اړتیاو باندې تمرکز وکړي. له بده مرغه په شلمه پېړۍ کې چې کله سیمه صنعت او صنعتي تولید خواته په خوځښت وه، لر او بر افغان د کسب

او کار په اړه ناوړه ټولنيزو دودونو له کبله سنتي اقتصادي نظام کې بوخت پاتې شو. د نوې نړۍ نويو اقتصادي بدلونونو سره د خان نه برابرولو له کبله افغاني ټولنه له اقتصادي اړخه د پرمختګ له کاروانه پاتې شوه، انساني کاري قوې په هغه کچه چې لازمه وه د ورتياو له اړخه پرمختګ ونکړ او له همدې امله بر تر ډيره او لر تر يو بريده بې مسلکه انساني کاري ځواک توليد کړ چې يوازې د خدماتي يا غير مسلکي کارونو ورتيا لري.

په لر او بر کې کسبونو باندې ملنډې او کسبګر ته په ټيټه سترګه کتل د دې لامل شوی چې افغان وګړي صنعت او توليدي کارونو ته مخه نه کوي. لکه څنګه چې په ټولنيزه برخه کې يادونه وشوه، د تعليم په برخه کې نا کافي ښکيلتيا، د کسب او کاري مهارتونو د زدکړې په برخه کې وروسته پاتې کېدل د دې لامل شوي چې افغاني ټولنه له يوې خوا غريبه او مفلسه ده، له بلې خوا د نورو په توليد تکيه ده چې له کبله يې د غربت او افلاس شيطاني حلقې سرعت لا پسې تېز شوی.

## ۴. د نن لپاره له پرون زدکړه

افغانستان د باچا خان انجمن اصلاح افاغنه او په ټوله کې د دغه ستر شخصيت له افکارو څخه زدکړې ته تر بل هر وخت نن ډېره اړتيا لري. د ټولنې اصلاح د دې لامل کېدی شي چې افغاني ټولنه له هغه بنسټيزو ستونزو څخه خان خلاص کړي چې نن يې د افغانستان ټيکاو خطر سره مخ کړی دی. د اصلاحاتو په برخه کې د انجمن اصلاح افاغنه لومړی هڅو ته چې په سياسي انسجام متمرکزه وو بايد لومړيتوب ورکړل شي.

سياست او سياسي فعاليت د يوې ژوندۍ، پرمختګ ته چمتو او نړۍ سره د سيالۍ ټولنې اساسي اړتيا ده. په سياسي چارو کې بوختيا، د ټاکنو له لارې د ښېلا ښېلو کچو مشرتابه او استازو ټاکنه د ټولنې د وګړو وجيبه ده. همدا راز د حکومتي چارواکو په کړنو څار او حساب اخيستنې ورتيا هغه اړين توکي دي چې له امله يې ښه حکومتولي را منځ ته کېږي. همدا هلې ځلې دي چې د هېواد د چارواکو او وګړو تر منځ اړيکې پياوړې کيږي، د پرمختيايي برنامو د جوړونې او پلي کولو له لارې د هېواد پرمختګ زمينه برابربږي او هېواد ټيکاو او هوسايينې په لوري حرکت کوي. د دې موخې د ترلاسه کولو لپاره د باچا خان له ژوند ډېر څه زده کېدلا شي. په دې لړ کې تر ټولو اساسي خبره دا ده چې ولسي کار ډېره حوصلې، په ولسي کچه دوامداره فعاليت او منډو ترړو ته اړتيا لري. که د باچا خان مبارزې ته وکتل شي نو په لومړي سر کې ګورو چې ولس او د هغه د مبارزې ملګرو په هغه کچه د باچا خان ملاتړ نه کولو څومره چې دغه ستر مبارز تمه درلوده. خو ستر باچا خان خپله حوصله له لاسه ورنکړه او خپلې مبارزې ته يې دوام ورکړ. همدا د باچا خان په شان مشرانو

د نه ستړي کېدو هوډ وو چې یوه داسې ټولنه چې په هېڅ معنا سیاسي نه وه د متحده هندوستان د سیاست یوه فعاله برخه ترې جوړه کړه او په انګرېزي هندوستان کې یې د خپل ایالت واک د ولس د رایو په اساس په خپل لاس کې واخیست.

د سیاست په برخه کې ارزښتونه پالل هم له باچا خان زده کېدی شي. ارزښت پالنه ستر هوډ او خپلو موخو ته د ژمنتیا وروستی حد دی چې باچا خان یې د خپل ژوند او مبارزې په اوږدو کې په کراتو تمرین نندارې ته وړاندې کړی. باچا خان تل دوه ټاکنې په خپل مخ کې درلودې چې یوه یې په ارزښتونو معامله وه او بله خوا بیا د بند او بندیزونو یوه اوږده سلسله منل وو. باچا خان دخپلو ارزښتونو د پاللو په بدل کې د خپل عمر قیمتي کابو درې لسیزې په بند کې تېرې کړې خو د خپل ولس او سیمې د حقوقو د ساتنې سودا یې ونکړه. که افغانان غواړي چې د خپل اوسني حالت څخه د یو باثباته حالت خواته لاړه شي نو اړینه ده چې سیاست وکړي او په سیاست کې هم ارزښتونو ته ژمن پاتې شي. معامله ګري ښایي موقتي سیاسي برې او امتیاز ګټلو کې مرسته وکړي خو د سیاسي نظام د ریښو د غځولو مخه نیسي او په ټوله کې د ټولنې د پرمختګ بهیر ننګوي.

د ولس د سیاسي شعور او د مسایلو په اړه باخبره کرو ورو د ترویج لپاره د پیاوړیو سیاسي ادرسونو ایجادول هم ډېر مهم ګام دی. د سیاسي ډلو او ګوندونو فعالیت اهمیت له دې ثابت دی چې باچا خان د خپل ولسي فعالیت لپاره د خپل ژوند په اوږدو کې تنظیمي جوړښت درلود. د پیل لپاره یې مدني فعالیت غوره کړ او انجمن اصلاح افاغنه تر چتر لاندې یې ولسي ویښتابه او عامه پوهاوي لپاره کار پیل کړ. وروسته یې د خدایي خدمتګار تحریک د مدني او سیاسي فعالیت ادرس وګرځولو او له دې لارې یې عملي سیاست کې د خپلې سیمې خلکو د فعالیت زمینه مساعده کړه. د هندوستان تر وېش وروسته هم باچا خان د خپل ولس د امامت دنده د یو تنظیمي جوړښت په چوکاټ کې ترسره کړه. د باچا خان سیاسي فعالیت د ارتقاء بېلا بېل پړاونه افغاني ټولنې ته دا ستر پیغام ورکوي چې سیاست دې له انفرادیت څخه حزبي چوکاټ کې ځای پرځای کړی شي. ښایي په یوه داسې ټولنه کې چې له احزابو یې ښې خاطرې کمې دي که د حزبي سیاست لپاره د ولسونو منسجم کول اسانه نه وي، خو د باچا خان مبارزې او هلو ځلو او د دغه منډو ترړو پایلې ته په کتو دا کار او زیار په دې ارزي چې افراد او ډلګی قرباني ته چمتو شي.

باچا خان د ولسي ویښتابه او شعوري سیاست د ترویج لپاره د خپل فعالیت په سیمو کې سیاسي مباحثو، ناستو او حلقو د جوړولو لپاره هم ډېر کار کړی وو. هغه په یوه داسې ټولنه کې چې له سیاسي لحاظ نه کاملاً بې خبره او بېسواده وه د سیاسي فکر د جوړولو، د سیاسي شننې او

پرېکړې کولو د ورتیا د پیدا کولو لپاره ډېرې هلې ځلې وکړې. پایله دا وه چې حاشیې ته پاتې پښتون قوم د هند په سیاست کې مطرح شو او د هند د بېلتون نه وروسته هم د پاکستان په سیاست کې د افغان ملت د ګټو د مدافع په توګه یو پیاوړی ادرس پاتې شو. دا چې افغانستان دا اوس د سیمې او نړۍ پېچلو سیاسي لوبو کې راګیر دی، او دغه لوبې د بېلا بېلو مذهبي-سیاسي ایډیالوژیو د ناسمو تعریفونو په مرسته په افغانستان کې کېږي، د ولس سیاسي فهم او پوهه پیاوړي کول تر ټولو مهم او بنسټیز کار دی. دا مسولیت بیا هغو افرادو ته ور له غاړې دی چې د سیاسي نخبه ګانو، سیاسي رهبرانو او فعالانو په ردیف کې یادېږي. د باچا خان په شان د ولس په منځ کې د سیاسي مباحثې زمینه مساعدول او ولسي سیاسي پوهاوی لوړول کولی شي افغانستان د اوسني ټولنیز وېش او سیاسي بې ثباتۍ خلاص کړي.

د سیاسي مباحثو او د دغه مباحثو لپاره د میکانیزمونو درلودل کولی شي په ټولنه کې توکمیز، قومي او سمتي سیاست په ملي سیاست بدل کړي. باچا خان خپله سیاسي مبارزه په یو داسې وخت کې کوله چې افغاني ټولنه کاملاً بې تفاوته وه خو چې کله پکې سیاسي فعالیت پیل شو نو بیا په سیمه کې د تشدد او عدم تشدد نظریو ترمنځ ټکر ایجاد شو، د سیمې بډایه او بزګرې طبقې ترمنځ یو ډول تشنج را منځ ته شو ولې چې بډایه کارګر ځان سره په یو ردیف کې نه شو منلی او بله خوا بیا انګرېزانو د باچا خان د هلو ځلو د ننګولو لپاره دسیسې پیل کړې. د دومره ستونزو سره سره باچا خان و توانېد چې د لرې سیمې افغانان په سیاسي لحاظ منسجم کړي، یو صف کې یې سره راټول کړي او د هند په سیاست کې یې مطرح کړي. د ۱۹۳۷ز کال ایالتي ټاکنو کې د خدایي خدمتګار خوځښت بری او په کوزه پښتونخوا کې د سیاسي واک لاس ته راوړل د باچا خان د سیاسي انسجام، عامه پوهاوي او سیاسي شعور ویښولو ځلانده پایله وه.

باچا خان د خپل سیاسي سفر په اوږدو کې د کانګرس ګوند سرلاري او مشر موهنداس کرم چند ګاندهي سره هم د ګډو موخو د ترلاسه کولو لپاره شریک کار وکړو. په دې لړ کې باچا خان نه یوازې دا چې د ګاندهي سره ګډ سیاسي کار کې ملګری شو بلکې له پښتونخوا لرې پرتو سیمو کې یې هم د هند وباء ځیلي بې وزله ولس لاسنیوی وکړو. د باچا خان همدا فعالیت دی چې تر ننه پس له وېشه هندوستان کې پښتانه مخکښ او د هندي ټولنې د فعاله وګړو په توګه ستایل کېږي. که باچا خان د لرې سیمې پرتو سیاستوالو او ولسونو سره چې د هغوی په فرهنګي لحاظ هم له افغاني ټولنې سره تو پیر خورا ډېر وو د ګډو موخو د پالنې په خاطر یوځای کېدی شي نو د نن افغانستان ولې نه شي کولی چې د شریکو مذهبي، فرهنګي او ملي ارزښتونو په مټ خپل توکمیز، ژبني او

قومي وېش يوې خوا ته پرېږدي؟ د باچا خان د ملي ارزښتونو او ګټو د ساتلو په موخه د متفاوته ډلو او افرادو سره د شريک کار کول د افغاني ټولنې لپاره په خپل ځان کې ستر درس لري چې په زدکړه يې کېدی شي په ورو سياسي او ټولنيزو جغرافيو کې راګير افراد او ډلې د افغانستان د راتلونکي د خونديتابه لپاره په شريکه کار وکړي.

ولسي خدمت او مدني فعاليت د باچا خان د مبارزې د پام وړ ځانګړتيا وه. باچا خان د ولس خدمت ته د عبادت درجه ورکوله او د ولسي خدمت په سر يې اختلاف مردود اعلان کړی وو. دا په داسې حال کې ده چې نني افغانستان کې سياست او ولسي فعاليت تر ډېره امتياز اخيستنې لپاره کارول کېږي. افغاني ټولنه د باچا خان د لارښونو په رڼا کې کولای شي خپل خادمان وپېژني او يوازې هغه خلک ونمانځي او د مشر په توګه يې مطرح کړي چې سياسي او مدني فعاليت کې د بنده د رضا په ځای د ځښتن(ج) خوښي لټوي. دا چاره به تر ډېره مرسته وکړي چې په ټولنه کې هغه حقيقي رهبران چې موخه يې يوازې د افغانستان د راتلونکي روښانه کول وي مطرح شي او د ولس د چوپړ ځايونو کې ځای پرځای شي.

د باچا خان او د هغه د انجمن اصلاح افاغنه په افغاني ټولنه کې د ناوړه دودونو د منځه وړلو په برخه کې افغاني ټولنې ته د زدکړې لپاره ډېر څه لري. تر ټولو لومړی چې د دغه خوځښت له فعاليتونو زدکړه کېدای شي هغه د هغه کاذبو مقدساتو ننګول دي چې د افغاني ټولنې پرمختګ يې جدي خطر سره مخامخ کړی. د باچا خان د نمايشي سخاوتونو او خيراتونو د ورکړې په مقابل کې مبارزه د دې لامل شوه چې د کوزې پښتونخوا سيمه له دغه رسمونو او رواجونو تر يو بريده خلاصون ومومي کومو چې دغه ټولنه يې په اقتصادي او اجتماعي فقر کې ښکېل کړې وه.

همدا راز ناوړه ټولنيزو دودونو سره مبارزه د باچا خان د ژوند اساسي برخه وه. باچا خان، د هغه حديث سره سم چې پکې کسبګر د الله دوست ياد شوی، کسب او کسبګر د ټولنې نخبه ګڼلې او ورته ځانګړې اهميت قايل شوی. همدا راز، هغه د کسبګر د ملاتړ په خاطر په ولسي کچه د يو کسبګر په بڼه را څرګند شوی او له دې لارې يې ټولنې ته دا پيغام ورکړی چې کسب او کار کول، د صنعت جوړول او چلول د تحقير په ځای د تعظيم وړ کار دی. همدا راز د تعليم د خپراوي په موخه په کليوالي کچه تبليغ او فعاليت هغه بل څه دي چې مونږ په افغانستان کې د تعليم د کچې د لوړلو لپاره له انجمن اصلاح افاغنه څخه زده کولی شو. په ځانګړې توګه د ښځينه و د ټولنيز او سياسي فعاليت په مرسته افغاني ټولنه کولی شي چې د ټولنې يو ستر قشر په کار واچوي او د افغانستان د پرمختګ مزل لا پسې ګړندی کړي.

د باچا خان د نه تاوتریخوالي، زغم او د یو بل منلو فلسفه د نني افغانستان د بقا لپاره تر ټولو اړین توکی دی. باچا خان یوه داسې ټولنه چې تل یې جګړه ګټلي او سیاست بیللی دی، همیش د تکتیک او ډیپلوماسی په ځای د ځواک کارونې له کبله موقتي ګټو او اوږد مهاله زیان سره مخامخ پاتې شوې، د سیاست، ډیپلوماسی، مباحثې او مذاکرې له لارې د اوږد مهاله ګټو د پاللو لار ور وښوده.عدم تشدد او نه تاوتریخوالي خوځښتونو مطالعه دا ثابتوي چې د باچا خان تګلاره د پایداره او تلپاتې مثبت بدلون لپاره خورا ګټوره تمامېږي. یو شمیر پوهان په د نظر دي چې د بدلون او د خپلو حقوق دفاع په متشدده، په ویجاړۍ او وژنه ولاړه تګلاره بریالۍ ده خو دغه علمي شخصیتونه دا هېروي چې د ټوپک پورته کول اسانه خو بېرته په ځمکه ایښودل خورا ګران کار دی. د باچا خان او ګاندي په تګلاره روان مارټن لوتر کنګ جونیر د تور پوستو نورو خوځښتونو په پرتله د عدم تشدد تګلاره خپله کړه او پای کې د متشدده ډلو چې په خپلو کې په وژنو ښکېل شول ډېره بریا ترلاسه کړه. د نني افغانستان بېلا بېلې ډلې چې له تېرو څلورو لسیزو د باندنیو مداخلو او پردیو په لمسون کور دننه د تاوتریخوالي په مټ د سیاسي بدلون او د واک ته د رسیدو تکل کې دي د باچا خان له مبارزې زده کولای شي چې پرته له تاوتریخوالي هم شونې ده چې د بدلون لپاره بریالۍ مبارزه وشي. ښایي دا ډول مبارزه ډېر وخت او زمان ته اړتیا ولري خو جانبي عوارض، ویجاړۍ او د سرونو زیان پکې فوق العاده کم وي او دا بدلون بیا پایداره او اوږد مهاله هم وي چې ښه بېلګه یې د اپارتاید څخه د خلاصون په موخه د نیلسن منډیلا بریالۍ مبارزه ده .

## ۵. پایله

د نن د وضعیت، فرصتونو، ننګونو او خطرونو ارزونه او شننه دا ثابتوي چې د لوی افغانستان یوه پراخه سیمه یو وار بیا په هماغه حالت کې ده چې د نن څخه سل کاله دمخه وه. که لرې پښتونخوا ډېرو سیمو د بر وطن په پرتله د پرمختګ او پراختیا اوږد مزلونه کړي دي، د تېرو څلورو لسیزو تپل شویو باندنیو پالیسیانو چې بنسټ یې مذهبي توندلاریتوب کې نغښتی وو دغه پرمختللې سیمه هم یو وار بیا د تیر په شان ټولنیزو او سیاسي ستونزو سره لاس او ګرېوان کړې ده. د نه زغم، د ټولنیزې تنوع نه منل او په ټوله کې د زور زیاتي او تندلاري برخوردونو له کبله ټولنه هرج او مرج او داسې بې ثباتۍ سره لاس او ګریوان ده چې که مخه یې ونه نیول شي نو شونې ده چې له کبله یې افغاني ټولنه د دریو لسیزو څخه کمه موده کې یو وار بیا سقوط شي چې دا بدمرغي ممکن افغاني ټولنه یو وار بیا پیړۍ پیړۍ شاته وتمبوي.

په داسې وضعیت کې اړینه ده چې افغانان د خپلو مشرانو کامیابو تجربو ته مخه کړي او

ورڅخه د زدکړې له لارې د بدلون لپاره تګلارې جوړې کړي. له بده مرغه په افغاني ټولنه کې د وارداتي ایډیالوژیانو د ټکر له کبله د افغانستان وګړي نه دي توانېدلي چې د باچا خان په شان ستر شخصیت د انجمن اصلاح افاغنه په شان خوځښتونو څخه د ټولنې د اصلاح او بقا لپاره ګټه پورته کړي. اړینه ده چې د باچا خان د افکارو، د هغه د کارونو او لاسته راوړنو په اړه په ملي کچه د خپراوي لپاره زمینه مساعده شي.

د باچا خان د افکارو د خپرولو لپاره له بېلا بېلو لارو چارو کار اخیستل کیدای شي چې په لومړي سر کې د مطبوعاتو له لارې د ستر خان د افکارو او نظرونو د خپرولو لپاره برنامې جوړې شي. همدا راز د هیواد په بېلا بېلو برخو کې د باچا خان په اړه علمي سیمینارونه او ناستې برابرې شي ترڅو د هغه د افکارو په وړاندې کولو په ټولنه کې د بدلون لپاره علمي تګلارې او کړنلارې رامنځ ته شي.

افغانستان له بل هر وخت دا مهال د باچا خان د انجمن اصلاح افاغنه په شان خوځښتونو ته اړتیا لري. د ټپل شوي جګړې ناخوالو ته په کتو د اصلاحي حرکتونو نه پرته ښایي شونې نه وي چې افغان غمیزې او بدمرغیو ته د پای د ټکي اېښودو کومه بله لاره وي. له سیاسي، اجتماعي او اقتصادي اړخه اصلاح ټولنه کولای شي په نړیوال کلي کې د یوه فعاله او رغونکي ملت په توګه ژوند وکړي. په دې برخه کې د باچا خان د ژوند او جدوجهد څخه زدکړه تر ټولو ښه علمي ماخذ او مکتب دی او د دغه فکري مکتب څخه په استفاده شونې ده چې افغاني ټولنه له روانو ناخوالو خلاصه شي.